
# د جهالت د زمانے نخښاني

هفته وار اد د سنتونو ډکه اجتماع کښې کیدونکے

د سنتونو ډک بیان

(for Islamic Brothers)

**08-AUGUST-2024**



پهٔ 8 اګست کال 2024ء (متوقع اِسلامي تاريخ، 3 صَفرُ المُظفر، 1446ھ) د پاکستان پهٔ هفته وارو اجتماعاتو کښې کېدونکے بيان

# د جهالت د زمانے نخښانې

پهٔ دې بيان کښې به تاسو زده کړئ...

- ... مالِک او غلام پهٔ يو شان جامه کښې
- ... د رحمت او جنَّت موندلو نُسخه
- ...بے پردګي جدّت يا پهٔ سوونو کاله پخوانے قيصه؟
- ... د جهالت د زمانے يو څو نخښانې

پيشکش
اَلْمَدِيْنَةُ الْعِلْمِيَة
Islamic Research Center
(شعبه : بياناتِ دعوتِ اسلامي)
**For Feedback**:+92 315 2692786

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا رَسُوْلَ اللّٰه وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا حَبِیْبَ اللّٰه

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا نَبِیَّ اللّٰه وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا نُوْرَ اللّٰه

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَاف (**ترجمه**: ما د سُنَّت اعتکاف نِيَّت وکړو)

## د دُرُود شريف فضيلت

د مسلمانانو د خوږې مور جانې حضرت عائشه صِدِّيقه رضی اللہ عنہا نه روايت دے، رسولِ رحمت، شفيعِ اُمَّت صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: چې کله بنده په ما باندې دُرودِ پاک لولي نو د دې په برکت يوه فرښته د **الله** پاک په بارګاه کښې حاضريږي، د دې فرښتے د پاره حکم وي: دا زما د بنده د قبر خوا له بوځئ! د پاره د دې چې دا زما د بنده د پاره د بخښنې دعا کوي او زما د بنده ستر کے يخيږي. [1]

| | |
|---|---|
| ذاتِ والا پہ بار بار دُرود | بار بار اور بے شُمار دُرود |
| قبر میں خوب کام آتی ہے | بیکسوں کی ہے یارِ غار دُرود [2] |

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د بيان اوريدلو نيتونه

په **حديثِ پاک** کښې دي: اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّيَّات د اعمالو دار و مدار په نيتونو دے. [3]

---

1...مسندِ فردوس، جلد:4، صفحہ:10، حدیث:6026بتصرف قلیل۔

2...ذوقِ نعت، صفحہ:123تا125ملتقطاً۔

3...بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحہ:65، حدیث:1۔

اے د خوږ نبي صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عاشقانو! پهٔ ښو ښو نيتونو د عمل ثواب زياتيږي. راځئ چې د بيان اوريدو نه مخکښې څهٔ ښهٔ ښهٔ نِيَّتونه وکړئ: مَثَلاً ❁ د **اللّٰه** پاک د رضا د پاره به تهول بيان اورم ❁ پهٔ اَدب به کښينم ❁ ښهٔ پهٔ توجُّه به بيان اورم ❁ څهٔ چې واورم، د هغې به د يادولو، پخپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسولو کوشش کووم.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## آقا او غُلام هم پهٔ يوه حُليه کښې

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د حديثونو پهٔ مشهور کتاب **بُخاري شريف** کښې يو ډير ښکلے روايت دے، زهٔ هغه روايت لږ وضاحت سره تاسو ته بيانووم:

حضرت مَعرُور بن سُوَيد رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: يو ځل زما د صحابئ رسول حضرت ابو ذَر غفاري رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ زيارت نصيب شو، د هغوئي سره د هغوئي غلام هم وو، انداز يې دا وو چې حضرت اَبُو ذَر غفاري رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ لاندې د کم قيمت والا جامې اغوستې وې، بره يې قيمتي څادر اچولے وو، بالکل هم داسې جامې د هغوئي د غلام هم وې، هغهٔ هم لاندې د کم قيمت والا جامې اغوستې وې، بره يې قيمتي څادر اچولے وو. دا ځانګړے انداز يې چې وليدو نو خلقو عرض وکړو: اے ابو ذَر رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ! دا خو هم کيدے شو چې تاسو د دواړو قيمتي څادرو نه ځانله بهترينې جامې جوړې کړے وے او کم قيمت والا چې کومې جامې دي، هغه مو غلام ته اغوستے وے (داسې به ستاسو بهترينې جامې هم جوړې شوے وے او د آقا او د غلام پهٔ مينځ کښې به فرق هم پاتې شوے وے). دا پوښتنه چې يې واوريدله نو حضرت ابو ذَر غفاري رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د خپل تير وخت يوه واقعه بيان کړله (يعنې هُغه زمانه کله چې حضرت ابوذَر غفاري رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ لا د نبيانو د سلطان، رسولِ ذيشان صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پهٔ تربيت کښې وو، د رسول الله صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه به يې آداب او اخلاق زده کول، هغوئي د هغه وخت خبره خلقو ته بيان کړله)، اوئې فرمائيل: يو

ګس وو، يو ځل زما د هغهٔ سره څهٔ بحث شو نو ما هغهٔ ته ووئيل: اے د تورې مور ځويه! (يعنې د هغهٔ مور هم د تور رنګ والا وه نو ما هغهٔ له دا پيغور وکړو). چې کله خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته د دې خبرې پته ولګيده نو رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ووفرمائيل: يَا اَبَاذَرٍّ اِنَّكَ اِمْرَءٌ فِيْكَ جَاهِلِيَّة يعنې اے ابو ذَره! پهٔ تا کښې دننه لا تر اوسه پورې د جهالت (د زمانے) والا اثر پاتې دے. نور يې ووفرمائيل: دا چې کوم ستا خادِمان (يا غُلامان) دي، دا ستا وروڼه دي، **الله** پاک دوئي ستا ماتحت کړي دي، پس د چا چې څوک ورور د هغهٔ ماتحت شي، هغهٔ له پکار دي چې ❀ څهٔ پخپله خوري، هم هغه پهٔ ماتحت باندې خوري ❀ څهٔ چې پخپله اغوندي، هم هغه ماتحت ته اغوندي (دا زما د محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تعليم دے، ځکه ما خپل غلام ته هم هُغه جامې اغوستې دي، کومې چې ما پخپله اغوستې دي). (1)

**پهٔ بعضې روايتونو کښې دي:** هُغه صحابئ رسول د چا سره چې د حضرت ابو ذَر غفاري رَضِىَ اللهُ عَنْهُ څهٔ بحث وغيره شوے وو، هغهٔ حضرت بِلال رَضِىَ اللهُ عَنْهُ وو، چې کله خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د حضرت ابو ذَر غفاري رَضِىَ اللهُ عَنْهُ تربيت ووفرمائيلو او اوئې وئيل چې اے ابو ذَره! (تا اِسلام هم قبول کړو، د اِسلام نُور هم پهٔ تا کښې راغلو، پهٔ اِسلامي اخلاقو او آدابو باندې تهٔ منور هم شوې خو) د جهالت (د زمانے) والا د يو خصلت اثر تر اوسه پورې پاتې دے نو هغوئي فوراً د حضرت بِلال رَضِىَ اللهُ عَنْهُ خوا له لاړل. خپل مخ يې پهٔ زمکه باندې کيښودو او اوئې وئيل: اے بِلاله! **تر څو پورې چې تاسو خپله ښپه زما پهٔ خُله باندې نه وي کيښودې، زهٔ به د زمکې نه مخ پورته نکړم.**

**الله! الله!** د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ فرمان باندې د عمل کولو شوق او جذبې ته وګورئ! هُغه يو کمے کوم چې محبوب ذيشان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

1... بخاری، حدیث: 30 مع شرح۔

وښودلو، د هغې کمې د پوره کولو جذبې ته وګورئ! تر کومه حده پورې عاجزي اختياروي، بل خوا حضرت بِلال رضی اللہ عنہ هم صحابئ رسول دے، د هغوئي ضمير دا خبره چرته منله، نو هغوئي پرې ښپه نه کيښودله، **آخر حضرت ابو ذَر** رضی اللہ عنہ **پۀ زوره د هغوئي ښپه د خپل مخ سره ولګوله.** [1]

| | |
|---|---|
| قرآن کے آئینے میں ہستی کے قرینے | تاحدِ نظر پھیلے ہیں اَنمول خزینے |
| ہیں مثل ستاروں کے مِری بزم کے ساتھی | اَصحاب کے بارے میں یہ فرمایا نبی نے |
| ہیں آپ کے ہاتھوں ہی سے تراشے ہوئے ہیرے | اسلام کے دامن میں یہ تابِندہ نگینے |
| بعد ان کی محبّت کے سفر صرف تھکن ہے | منزل کوئی پائے گا نہ پائی ہے کسی نے |

## د حديثِ پاک نه د زده کولو خبرې

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** پۀ دې واقعه کښې زمونږ د زدکړې د پاره ډيرې خبرې دي. مثلاً

## (1): د خادِم سره نيک سلوک

د دې نه خو د زدکړې د پاره يوه خبره دا ميلاو شوه چې مونږ له پکار دي چې عاجزي اختيار کړو، د چا مسلمان پۀ مقابله کښې ځان اوچت نه ګڼو، که مخامخ ګس خادِم او غُلام ولې نه وي. مونږه ټول مسلمانان يو، د **الله** پاک بندګان يو، ټول د حضرت آدم علیہ السلام اولاد يو ✿ که څوک خان دے او که نوکر ✿ که څوک مالداره دے او که څوک غريب ✿ که څوک غلام دے او که آقا ✿ که څوک خادِم دے او که مخدوم، دا هر څۀ د دُنيا يو نظام دے، د رَبِّ کريم تقسيم دے، که څوک خان دے نو هغۀ د مور د ګيډې نه خان نه دے پيدا شوے، **الله** پاک هغۀ خان جوړ کړے دے، که څوک نوکر دے هغۀ د پيدا کيدو سره نوکر نه وو، **الله** پاک هغۀ نوکر جوړ کړے دے، د کردار

---

1...ارشاد الساری، 160/1۔

اوچت والے، د اخلاقو پاکوالے، د **اللّٰه** پاک قُرب او د آخرت کاميابي، بيلې خبرې دي، د **اللّٰه** پاک په نزد څوک ډېر خوښ دے؟ خان که نوکر، دا مونږ ته نه ده معلومه ❀ د دې تعلق د پيسو سره نه دے ❀ د دې تعلق د دنيائي حيثيت سره نه دے ❀ د دې تعلق د غټې کُرسۍ سره نه دے ❀ د دې تعلق د تقویٰ او پرهيزګارۍ سره دے. **اللّٰه** پاک فرمائي:

اِنَّ اَكْرَمَكُمْ عِنْدَ اللّٰهِ اَتْقٰىكُمْ ؕ (پاره:26، سورۂ حجرات:13)

ترجمهٔ کنزُ العِرفان: بے شکه د الله په نزد په تاسو کښې زيات عِزَّت والا هغهٔ دے څوک چې په تاسو کښې زيات پرهيزګار دے.

څکه مونږ له پکار دي چې عاجزي اختيار کړو، د هر چا سره نيک سلوک کوو، پخوا به په پيسو باندې اخستے شوي غلامان وو، اوس هغه ماحول خو نشته، البته خادمان خو وي، نوکران خو اوس هم په کورونو، دکانونو او دفترونو وغيره کښې ساتلے کيږي، مونږ له پکار دي چې دوئي کمتر نه ګڼو او د تکبر په آفت کښې نه اخته کيږو، د دوئي سره هم نيک سلوک کوو.

فخر و غُرور سے تُو مولیٰ مجھے بچانا | یا ربّ! مجھے بنا دے پیکر تُو عاجزی کا[1]

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د رحمت او جنَّت موندلو نُسخه

په حديثِ پاک کښې دي: د نبيانو نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: درې خبرې چې په چا کښې وي، **اللّٰه** پاک به په هغهٔ باندې رحمت هم فرمائي او هغهٔ به جنَّت ته هم داخلوي. (هغه درې عادتونه کوم کوم دي؟): **(1):** په کمزوري باندې نرمي کول (يعنې څوک چې په جسماني لحاظ سره کمزورے دے، مثلاً ❀ بوډا دے ❀ معذوره دے

---

1...وسائل بخشش، صفحہ:178۔

❀څوک په ښپو باندې معذوره دے ❀ څوک په لاسونو باندې معذوره دے ❀ لیدل نشي کولے ❀ اوریدے نشي ❀ خبرې نشي کولے ❀ هم داسې څوک چې په مالي لحاظ سره کمزورے دے ❀ غریب دے ❀ فقیر دے ❀ څوک په ذِهني طور کمزورے دے ❀ پاګل دے ❀ کمزوري ذِهن والا دے، هغهٔ په خبره باندې ډیر وروستو پوهیږي، وغیره داسې چې کوم کمزوري خلق دي، په هغوئي باندې نرمي کول د رحمت او جنَّت میلاویدو ذریعه ده) **(2):** د مور پلار سره ښه سلوک کول **(3):** د غلامانو سره ښیګړه کول. [1]

د قرآنِ کریم مشهور مفسر، حکیم الاُمّت مفتي احمد یار خان نعیمي رحمۃ اللہ علیہ فرمائي: کوم حقونه چې لازم دي، د هغې نه زیاتې مهربانئ کولو ته ښیګړه وئیلے شي. [2] یعني څوک چې زمونږه ماتحت دي، خادمان دي، نوکران دي نو د هغوئي چې کوم لازمي حقونه دي، هغهٔ خو هسې هم پوره کول دي، د هغې سره سره د هغوئي د حقونو نه چې د هغوئي سره زیاته مهرباني وکړے شي نو دا رحمت او جنَّت ورکوونکې نیکي ده.

## (2): پیغور مهٔ ورکوئ!

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د حضرت ابو ذَر غفاري رضی اللہ عنہ د واقعې نه دویم سبق دا میلاو شو چې پیغور ورکول د یو مسلمان شان نه دے، وګورئ! حضرت ابو ذَر غفاري رضی اللہ عنہ صرف دومره وئیلي وو: **اے د تورې مور ځویه!**

دا خبره دروغ نه وه، خبره ربنتیا وه خو خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم دا د جهالت د زمانے اثر وګرځولو. معلومه شوه چې چا له داسې پیغور ورکول د جهالت د زمانے نخښه ده، اِسلام د دې نه منع فرمائیلې ده. **الله** پاک فرمائي:

**وَلَا تَلْمِزُوْۤا اَنْفُسَكُمْ** (پارہ:26، سورۂ حجرات:11) | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: او خپل مینځ کښې چا ته پیغور مهٔ ورکوئ.

---

1...ترمذی، کتاب صفۃ القیامۃ، رقم ۲۵۰۲، ج۴، ص۲۲۲۔

2...مرآۃ المناجیح، ج۵، ص:۲۸۰۔

پهٔ تفسیر صراطُ الجنان کښې دي: یعنې د ژبې یا د اِشارے پهٔ ذریعه پهٔ یو بَل باندې عیب مهٔ لګوئ ځکه چې مؤمِنان د یو بدن پهٔ شان دي، چې کله پهٔ بَل یو مؤمِن باندې عیب لګولے شي نو لکه چې پهٔ خپل ځان باندې عیب لګولے شي. [1]

آه! نن سبا دلته نورو خلقو له د پیغورونو ورکولو وبا هم عامه ده ❀ که څوک سُنَّت اختیار کړي ❀ خپله ناسته پاسته ❀ ګرځیدل ❀ خوراک څښاک ❀ اغوستل وغیره د سُنَّت مطابق کړي نو هغهٔ له پیغورونه ورکولے شي ❀ غریب له د غریبۍ پیغور ورکولے شي ❀ کله د چا ذات کمتر ګڼلے شي او هغوئي له د ذات پیغور ورکولے شي (حالانکې هیڅ ذات ذلیله او کمتر نشته، د عزت معیار تقویٰ ده) ❀ که څوک مزدوري کوي نو هغهٔ له د مزدورۍ پیغور ❀ که څوک ګاډۍ لګوي نو هغهٔ له د ګاډۍ لګولو پیغور ❀ د چا چې صرف لوڼه وي، ځوي یې نه وي، (حالانکې لور د **اللّٰه** پاک رحمت دے، د دې باوجود) هغهٔ له پیغورونه ورکولے شي.

که د رشتو لین دین وي او خدائے دې نهٔ کړي که د طلاق وغیره معامله وي، بیا خو پرې شیطان ښه پوره لوبې کوي او د پیغورونو پهٔ آفت کښې یې ښه اخته کوي. کاش چې مونږه د الله او د رسول تعلیمات پهٔ رښتوني زړهٔ سره عملي طور اختیار کړو...!

تجھ کو گر رُتبۂ عالی کی طلب ہے بھائی! | غور سے سُن! تجھے ہستی کو مٹانا ہو گا
بھائیو! چاہیے گر ربِّ محمد کی رضا | خود کو محبوب کی سُنّت پہ چلانا ہو گا [2]

## مؤمِن پیغور نه ورکوي

د حضرت عبد الله بن مسعود رضی اللہ عنہ نه روایت دے، رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم فرمائیلي دي: مؤمِن نهٔ پیغور ورکولو والا وي، نهٔ لعنت ویونکے وي، نهٔ فحش

---

1... تفسیر صراط الجنان، پارہ:26، سورۂ حجرات، تحت الآیۃ:11، جلد:9، صفحہ:430بتغیر قلیل۔

2... وسائلِ بخشش (مرمم)، صفحہ:185ملتقطاً۔

(یعني بے هوده) بکواس کوونکے وي. [1]

د قرآنِ کریم مشهور مفسر، حکیم الأُمّت مفتي احمد یار خان نعیمي رحمۃ اللہ علیہ فرمائي: دا عیبونه (یعني پیغوررونه ورکول، لعنت وئیل او فحش بکواس، دا) پۀ رښتوني مسلمان کښې نه وي، خپل عیبونو ته نۀ کتل، د نورو مسلمانانو عیبونه لټول، هر یو ته ستغې سپورې وئیل د اِسلام د شان خلاف دي. بعضې خلق څناورو، هوا ته کنځلې کوي، بعضې خلق کنځلې مخکښې کوي او خبرې وروستو کوي، دا ټول دې د دې **حدیثِ پاک** نه عبرت واخلي. [2]

## (3): د جهالت د نخښو نه بچ اوسئ!

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د حضرت ابو ذَر غفاري رضی اللہ عنہ د واقعې نه دریم سبق دا میلاو شو چې د کوم مسلمان دننه د جهالت د زمانے اثر وي ❀ د هغۀ پۀ کردار کښې ❀ اخلاقو کښې ❀ انداز کښې ❀ طور طریقو کښې د جهالت د زمانے والا څۀ بد عادت وي، دا خبره د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم هیڅکله هم خوښه نه ده. رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم تشریف هم دې د پاره راوړے دے چې خلق د جهالت د تیارو نه راوباسي او د اِسلام نُور ورته عطا کړي. پۀ 13 سیپاره، سورۀ ابراهیم، آیت: 1 کښې ارشاد دے:

كِتٰبٌ اَنْزَلْنٰهُ اِلَیْكَ لِتُخْرِجَ النَّاسَ مِنَ الظُّلُمٰتِ اِلَى النُّوْرِ ﴰ (پارہ: 13، سورۂ ابراہیم: 1)

ترجمۂ کنزُالعِرفان: دا یو کتاب دے کوم چې مونږه ستا طرف ته نازل کړے دے د پاره د دې چې تۀ خلق د هغوئي د رَبّ پۀ حُکم د تِیارو نه راوباسې د رڼا طرف ته.

---

[1] ...ترمذی، کتاب البر والصلۃ، صفحہ: 481، حدیث: 1977۔

[2] ...مرآۃ المناجیح، جلد: 6، صفحہ: 469 بتغیر قلیل۔

يعنې اے محبوبه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! دُنيا پهٔ تيارو کښې ډوبه ده، مونږ د قرآنِ کريم نُور پهٔ تاسو باندې نازل کړو، تاسو خلقو ته د قرآنِ کريم اوړولو سره، د قرآنِ کريم لوستلو سره، د قرآنِ کريم د نُوراني تعليماتو عام کولو سره خلق د تيارو نه د نُور پهٔ لور راوباسئ!

بيا هم داسې وشول چې د الله پاک آخري رسول، رسولِ مقبول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خلقو ته قرآنِ پاک واوړولو، د قرآنِ کريم معاني يې بيان کړلې، د قرآنِ کريم راز يې د هغوئي سينو ته کوز کړو او هم هٰغه خلقو ❀ چا چې د ځان نه د کمتر څيزونو نه خدايان جوړ کړي وو، هغوئي يې د يو الله وَحدَه لَا شَرِيک مخې ته سر پهٔ سجده کړل ❀ څوک چې د اخلاقياتو پهٔ تيارو کښې وو، هغوئي يې د اعلىٰ اخلاقو او کردار مالکان جوړ کړل ❀ هٰغه کومو چې به خپلې لوڼه ژوندۍ ښخولې، هغوئي يې د لوڼو محافظان جوړ کړل ❀ هٰغه څوک چې د بے حيايۍ ژورې کندې ته غورځيدلي وو، هغوئي يې حيادار جوړ کړل ❀ هم دا قرآنِ کريم دے د کوم پهٔ ذريعه چې د جهالت تيارې لرې شوې ❀ هم دا قرآنِ کريم دے د کوم پهٔ ذريعه چې د کُفر او شِرک تيارې لرې شوې ❀ هم دا قرآنِ کريم دے د کوم پهٔ ذريعه چې پهٔ اخلاقو او کردار کښې نُور راغلو ❀ هم دا هٰغه قرآنِ کريم دے د کوم پهٔ ذريعه چې تَش پهٔ نوم انسان حقيقي انسان جوړ شو ❀ هم دا هٰغه قرآنِ کريم دے د کوم تعليمات چې يې عام کړل او سرکارِ عالي وقار، مکي مَدَني تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ ټوله دُنيا کښې هر خوا ته نُور خور کړو. يو شاعر څه ښهٔ وئيلي:

وه دانائے سُبُل، ختمِ رُسُل، مولائے کُل جس نے | غُبارِ راہ کو بخشا فروغِ وادیٔ سینا (1)

وضاحت: دانائے سُبُل: يعنې هادي، د لارو نه خبر. خَتمِ رُسُل: يعنې د ټولو نه آخري نبي، مولائے کُل: د ټولو آقا، د ټولو مولا چا چې د لارې دوړه رَشکِ طُور جوړه کړله.

د اعلىٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه وړور جان مولانا حَسَن رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي:

---

1...کلیاتِ اقبال، صفحہ: 235۔

www.dawateislami.net

کُھلِیں اسلام کی آنکھیں، ہوا سارا جہاں روشن
عرب کے چاند صدقے! کیا ہی کہنا تیری طلعت کا [1]

وضاحت: اے خوږه محبوبه! اے د عربو سپوږمۍ صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! زۀ ستاسو نه زار شم، تاسو د نبوت اِعلان څۀ ووفرمائيلو چې د اِسلام پۀ برکت ټوله دُنيا روښانه شوله.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د جهالت د بدو خبرو نه نفرت

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! معلومه شوه چې خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دې دُنيا ته تشريف هم صرف دې د پاره راوړلو چې خلق د جهالت د تيارو نه راوباسي او د اِسلام نُور ته يې راولي. ځکه که پۀ چا مسلمان کښې د جهالت د زمانې يو عادت هم موجود وي، د جهالت د زمانې معمولي شان څيز هم د چا پۀ کردار کښې ښکاره شي، نو د رسول الله صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دا خبره هيڅکله هم خوښه نه ده. پۀ اِبنِ ماجه شريف کښې روايت دے، حضرت عِمرَان بن حُصَين رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ فرمائي: يو ځل مونږ د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره د جنازې کولو د پاره روان وو. بيا معامله څۀ داسې وشوه چې بعضې خلقو خپلې څادرې لارې ته راوغورځولې. رسولِ خُدا، احمدِ مجتبیٰ صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم چې کله دا وليدل نو اوئې فرمائيل: اَبِصنيعِ الْجَاهِلِيَّةِ؟ آيا تاسو د جهالت والا کار سره مشابهت کوئ؟ لَقَدْ هَمَمْتُ أَنْ أَدْعُوَ عَلَيْكُمْ دَعْوَةً تَرْجِعُونَ فِي غَيْرِ صُوَرِكُمْ يعنې زړۀ مې غوارې چې ستاسو خلاف دُعا وکړم پۀ کومې چې ستاسو مخونه وران شي. د خوږ آقا، رسولِ خُدا صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دا جلال چې يې وليدلو نو صحابۀ کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُم فوراً څادرې اوچتې کړلې، بيا يې چرې هم

---

[1]...ذوقِ نعت، صفحہ:75۔

داسې اونه کړل. (1)

**الله! الله!** خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! پهٔ دې روايت باندې غور وکړئ چې دا د جهالت د زمانے انداز وو چې د اِسلام نه مخکښې چې به کله خلق د مَړو د ښځولو د پاره تلل نو د غم اظهار کولو د پاره به يـې پهٔ لاره کښې ځادرې غورځولې، پهٔ واپسۍ کښې به يـې واپس راخستلې. هُغه صحابهٔ کرام رضی اللہ عنہم چا ته چې د اِسلام مکمل تعليمات لا تر هُغه وخته پورې نه وو رسيدلې، هغوئي چې کله داسې وکړل نو رسول الله صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم څنګه جلال ووفرمائيلو...؟ د دوارړو جهانونو د رحمت صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم پهٔ دې جملو باندې بيا بيا غور وکړئ: اوئې فرمائيل: اَبِصنيعِ الْجَاهِلِيَّةِ؟ آيا تاسو د جهالت والا کار سره مشابهت کوئ؟ لَقَدْ هَمَمْتُ أَنْ أَدْعُوَ عَلَيْكُمْ دَعْوَةً تَرْجِعُونَ فِي غَيْرِ صُوَرِكُمْ يعنې زړهٔ مې غوارړي چې ستاسو خلاف دُعا وکړم پهٔ کومې چې ستاسو مخونه وران شي.

د دې نه دا معلومه شوه چې آخري نبي، رسولِ هاشمي صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم به د جهالت د زمانے د کارونو نه سخت نفرت فرمائيلو. ځکه پهٔ مونږ باندې لازم دي چې مونږ هم د داسې ټولو کارونو نه ځان وساتو.

## ډير ناخوښه کَس

د حضرت عبد الله بن عبّاس رضی اللہ عنہ نه روايت دے، د نبيانو سلطان، رسولِ ذيشان صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم فرمائيلي دي: د **الله** پاک پهٔ بارګاه کښې 3 ګسان ډير ناخوښه دي: **(1):** پهٔ حرمِ پاک کښې بے دِينی (يعنې ګناه کولو والا يا ګناه خپرولو) والا **(2):** پهٔ اِسلام کښې د جهالت د زمانے طريقو لټولو والا (يعنې هغه بنده چا چې کلمه هم وئيلې وي، مسلمان شوے هم وي او بيا هم د جهالت د زمانے ګناهونه او بد رسمونه خوښوي، هغهٔ د **الله**

---

[1]...ابن ماجہ، حدیث:1486۔

پاک پهٔ نزد ډیر ناخوښه دے) **(3):** او دریم ګس: د مسلمانانو د وینو تږے. [1]

## پهٔ اِسلام کښې پوره پوره داخل شئ!

**اللّٰه** پاک پهٔ قرآنِ کریم کښې فرمائي:

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا ادْخُلُوْا فِي السِّلْمِ كَآفَّةً (پاره:2، سورۂ بقره:208)

ترجمهٔ کنزُ العِرفان: اے ایمان والؤ! پهٔ اِسلام کښې پوره پوره داخل شئ.

یعنې اے ایمان والؤ! د اِسلام پهٔ رنګ کښې پوره رنګ شئ! ❁ عقیدے هم اِسلامي ساتئ! ❁ اَعمَال هم اِسلامي اِختیار کړئ! ❁ صورت هم اِسلامي جوړ کړئ! ❁ سیرت هم د مسلمانانو والا ساتئ! ❁ چې ستاسو نومونه هم اِسلامي وي ❁ کارونه هم اِسلامي وي ❁ ستاسو ژوند هم اِسلامي وي ❁ مرګ هم اِسلامي وي ❁ واده ❁ خوشحالي هم اِسلامي وي ❁ د غم او د خفګان انداز هم اِسلامي وي ❁ رسم او رواج هم اِسلامي وي ❁ او طور طریقے هم اِسلامي وي، غرض دا چې خپل مرګ او ژوند اِسلامي جوړ کړئ!

د قرآنِ کریم د مشهور مفسر، حکیم الاُمّت مفتي احمد یار خان نعیمي رحمۃ اللہ علیہ د فرمان خُلاصه دهٔ: څوک چې کور ته داخل شي، هغهٔ د ګرمۍ، یخنۍ، باران، غلا وغیره نه محفوظ شي، داسې اِسلام هم لکه چې یوه ودانۍ ده، کوم مسلمان چې دې ته داسې داخل شو چې ❁ پهٔ زړهٔ کښې یې اِسلامي عقائدو کور کړے وو ❁ پهٔ دماغو کښې یې عشقِ رسول وو ❁ او پهٔ اندامونو کښې یې اِسلامي احکام نافذ وو، هغهٔ د شیطان د غلا نه هم بچ شو او د دوزخ د ګرمۍ، یخنۍ نه هم محفوظ شو. [2]

**اللّٰه** پاک دې مونږ ته توفیق راعطا کړي چې مونږ هم داسې پهٔ اِسلام کښې پوره پوره

---

1...مشکاة، حدیث:1486۔

2... تفسیرِ نعیمی، جلد2۔

داخل شو. اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم

## د جشنِ ازادۍ ورځ (Independence Day)

خوږو او محترمو اسلامي ورونو! یو څو ورځې پس 14 اګست راتلونکے دے، زمونږ پۀ خوږ وطن پاکستان کښې پۀ 14 اګست د جشنِ ازادۍ ورځ نمانځلے کیږي. اَلْحَمْدُ لِلّٰہ! پاکستان د اللّٰہ پاک ډیر لوئي نعمت دے ❁ پۀ بَرِّصغیر (***Subcontinent***) کښې مسلمانان کم او زیات تر 100 کالو پورې د غلامۍ پۀ زنځیرونو تړلي وو ❁ مسلمانانو ته به د ذِلت پۀ نظر کتلے کیدل ❁ پۀ دوئي باندې به ظلمونه کیدل ❁ کافرانو به مسلمانانو ته ځاني او مالي نقصان رسولو ❁ پۀ وړه وړه خبره باندې به یې د دوئي عزتونه د پښو لاندې راوستل ❁ د مُسلے وئیلو سره به یې وریسې توقې کولې ❁ او پته نه لګي چې څنګه څنګه تکلیفونه به یې ورکول. بیا رَبِّ کریم مونږ ته خپل ازاد اِسلامي ملک عطا کړو. پۀ دې باندې چې د اللّٰہ پاک څومره شُکر هم ادا کړے شي نو کم دے.

خو ورسره ورسره دا هم یاد ساتل پکار دي چې پاکستان مونږ ته پۀ تحفه کښې نۀ دے راکړے شوے، دا د کم او زیات د 100 کالو د محنت نتیجه ده، د عظیم عاشقِ رسول علّامه فضلِ حق خیر آبادي رحمۃ اللہ علیہ نه د ازادۍ تحریک شروع شوے وو، پۀ کال 1857ء کښې د ازادۍ پۀ دې تحریک کښې تقریباً 22 زره علمائے کرام شهیدان شوي وو، [1] د ډیرو ظلمونو باوجود عاشقانِ رسول علمائے کرامو شپه ورځ محنت وکړو ❁سید محمد محدِّثِ کچھوچھوي ❁ مولانا مصطفٰے رضا خان ❁ مفتي نعیم الدین مراد آبادي ❁ پیر جماعت علي شاه صاحب ❁ مولانا احمد قادري ❁ مولانا عبد الماجد بدایوني ❁ عبد العلیم میرټھي ❁ سید احمد سعید کاظمي ❁ مفتي احمد یار خان نعیمي او د هغوئي نه علاوه پۀ زرګونو عاشقانِ رسول علمائے کرامو رحمۃ اللہ علیہم شپه

[1]... تحریکِ آزادی 1857ء میں علما کا مجاہدانہ کردار، صفحہ: 22تا23و29ملتقطاً۔

ورځ کوششونه وکړل، اُمَّت یې رابیدار کړو، بیانونه یې وکړل، کتابونه یې ولیکل، کور کور ته لاړل او پهٔ مسلمانانو کښې یې جذبه راپیدا کړله، [1] د دې محنت له وجهې د بَرِّصغیر د ګوټ ګوټ نه نعره ولګیده چې

پاکستان کا مطلب کیا؟ لَآاِلٰهَ اِلَّا الله. کون ہمارے راہنما؟ مُحَمَّدٌ رَّسُوۡلُ الله.

اخر د عاشقانِ رسول علمائے کرامو او د عوامو شریکو کوششونو رنګ راوړو، د مسلمانانو مشرانو محنت کار وکړو، د اګست 14 تاریخ وو، د رَمَضَانُ المُبَارَک میاشت وه، 27 شپه وه، پهٔ داسې مبارکو سعتونو کښې، پهٔ داسې برکتي شپه الله کریم مونږ ته د اِسلامیه جمهوریه پاکستان (***Islamic republic of Pakistan***) پهٔ شکل کښې خپل ازاد ملک راعطا کړو.

کبریا کا لطف تھا اور رحمتِ شاہِ زمن | ہم کو سینتالیس میں حاصِل ہوا اپنا وَطن
ہم پہ جِدّ و جُہدِ آزادی میں تھے سایہ فگن | اَولیائے اُمَّتِ اَحْمَد، صحابہ، پنج تَن
اہلسنت و الجماعت کی مقاصد سے لگن | رنگ کیسے لے نہ آتی، کیوں نہ مل جاتا وطن
سینکڑوں پیروں، ہزاروں عالموں کی دوڑ دھوپ | تھی نتیجہ خیر، ہم نے لے لیا اپنا وطن

اَلْحَمۡدُلِلّٰه! پاکستان د رَبِّ رحمان ډیر لوئي احسان دے، پهٔ دې باندې چې څومره هم شُکر ادا کړے شي نو کم دے. البته دلته پهٔ یوه بله خبره باندې د غور کولو ضرورت دے، هغه دا چې مونږ پاکستان ولې جوړ کړے وو؟ زمونږه پهٔ زرګونو عاشقانِ رسول علمائے کرامو یو ازاد ملک ولې غوښتلو؟ آیا هغوئي ته د یوې بیلې خطے ضرورت وو؟ آیا هغوئي مَعَاذَالله! د عُهدو لالچ کولو؟ نهٔ، نهٔ...!! هیڅکله هم نهٔ. ❁ مسلمانانو خپل ازاد وطن دې د پاره غوښتلو چې پهٔ پوره ازادۍ سره د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د غلامۍ اظهار وکړے شي ❁ مسلمانانو ازاد وطن دې د پاره غوښتلو چې د پوره ازادۍ

---

[1]... تحریکِ پاکستان میں علماءِ کرام کا کردار، صفحہ: 211تا212۔

سره نمونځونه ادا کړے شي ❀ مونږ ته ازاد وطن دې د پاره پکار وو چې د پوره ازادئ سره روژې ونيولے شو ❀ مونږ ته ازاد وطن پکار وو د پاره د دې چې د پوره ازادئ سره د اِسلام په معاشي اُصولو باندې عمل وکړے شو ❀ مونږ ته ازاد وطن دې د پاره پکار وو چې د پوره ازادئ سره د قرآن او سُنَّت تبليغ وکړے شو ❀ مونږ ازاد وطن غوښتلو، ولې؟ دې د پاره چې بغير د څۀ ويرې ترخې، د پوره ازادئ سره، د پوره جوش او جذبے سره، د پوره شوق او محبت سره د اِسلام په رنګ کښې ځان رنګ هم کړے شو او د هغې اظهار هم وکړے شو.

يعنې داسې ووايئ چې د ازادئ ميلاويدو نه مخکښې به په اِسلام کښې د پوره داخليدو د پاره مونږ ته قيمت ادا کول وو ❀ قربانئ به ورکول وې ❀ تکليفونه به برداشت کول وو، ځکه مونږ له يو ازاد ملک پکار وو د پاره د دې چې مونږ د پوره ازادئ سره مکمل اِسلامي ژوند تير کړو خو افسوس...!!

هغه عظيمو خلقو، عاشقانِ رسول علمائے کرامو خپل ځانونه قربان کړل، تکليفونه يې برداشت کړل، په کروړونو خلقو هجرت وکړو او په لکونو شهيدان شول، د هغه شهيدانو په وينو باندې دا وطن ازاد کړے شو، دا قربانئ ورکړے شوې وې د پاره د دې چې جوماتونه اباد شي خو جوماتونه وران شول ❀ قربانئ دې د پاره ورکړے شوې وې چې سُنَّت عام شي خو په معاشره کښې فيشن عام شو ❀ قربانئ دې د پاره ورکړے شوې وې چې د قرآنِ پاک تعليمات عام شي خو اوس مسلمانانو قرآنِ کريم زده کول خو غټه خبره ده د دې تلاوت کول هم پريښودے دے ❀ دا قربانئ ورکړے شوې وې د پاره د دې چې مونږ پوره پوره په اِسلام کښې داخل شو خو افسوس چې د اکثرو مسلمانانو کردار هم غيرِ اِسلامي شو، ظاهري شکل او صورت يې هم غيرِ اِسلامي شو.

## آیا هم دا جِدّت دے...؟

یو دا سوچ هم زمونږ په معاشره کښې جوړېږي، پته نۀ لګي چې زمونږ معاشرے ته د کوم ځائے نه دا سوچ راغلو او خورېږي، چې کله د اِسلام خبره کولے شي، د قرآن او سُنَّت خبره کولے شي، د اِسلامي اخلاقو او طور طریقو خبره کولے شي نو خلق وائي: **مولانا...!! څۀ زړې خبرې کوې، دا پخوانے سوچ ختم کړه! اوس نوے دور دے، دُنیا ترقي کړې ده.**

لَاحَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰه! آیا مَعَاذَالله! د یو مسلمان سره دا ښائي چې اسلامي تعلیماتو ته زړې خبرې ووائي، اِسلامي طور طریقو ته د ډېر پخواني سوچ نوم ورکړي؟ هیڅکله هم نۀ ښائي.

او که هسې هم وکتلے شي نو اِسلام زړې خبرې نه کوي، اِسلام خو د ټولو نه نوے او ***Latest*** دِین دے، آؤ جي! مخکښیني ټول دینونه منسوخ شوي دي ❀ اِسلام آخري دِین دے، د دې نه پس نۀ څۀ نوے دِین راغلے دے او نۀ به تر قیامته پورې راشي ❀ اِسلامي شریعت آخري شریعت دے، د دې نه پس نۀ څۀ شریعت راغلے دے او نۀ به تر قیامته پورې راشي ❀ د اِسلام تعلیمات اخري اسماني تعلیمات دي، د دې نه پس نۀ څۀ اسماني تعلیم راغلے دے او نۀ به تر قیامته پورې راشي ❀ قرآنِ کریم آخری وحي ده، د دې نه پس نۀ څۀ وحي راغلې ده او نۀ به راشي، لهٰذا اِسلام جدید ترین دِین دے. د دې نه علاوه چې مونږ ته څومره هم خبرې کولے شي، چې دا کوم رَسمونه او رواجونه بیانولے شي، د فیشن د نوم ورکولو سره چې دا کومې بے حیایئ عام کولے شي، دا ټولې خو ډېرې پخوانئ خبرې دي، په زرګونو کاله زړې قیصې دي، اوس خلق دې ته د جِدَّت نوم ورکوي. زۀ تاسو ته یو څو مثالونه وړاندې کووم:

## بے پردګي جدّت یا په سوونو کاله زړۀ قیصه...؟

**الله** پاک د پردے حکم کړے دے او فرمائیلي یې دي:

وَلَا تَبَرَّجۡنَ تَبَرُّجَ الۡجَاهِلِيَّةِ الۡاُوۡلٰى (پارہ:22، سورۂ احزاب:33)

ترجمۂ کنزُ العِرفان: او بے پرده مۀ اوسیږئ لکه د مخکښيني جهالت بے پردګي.

د دي نه معلومه شوه چي بے پردګي د وړومبي جهالت رواج دے، وړومبے جهالت کوم یو دے؟ حضرت عبد الله بن عبّاس رضی اللہ عنہما فرمائي: د حضرت ادریس علیہ السّلام او د حضرت نُوح علیہ السّلام ترمینځه چي کومه موده ده، هغې ته وړومبے جهالت وئیلے شي، پۀ هُغه وخت کښي به زنانۀ ځان سینګارولو او بے پرده به ګرځیدلې، پردو نارینۀ ته به یـې خپل حُسن ښودلو. حضرت مَقَاتِل فرمائي: د نَمرود د زمانے خبره ده، هُغه وخت به زنانۀ لَنډې لَنډې او نرۍ جامې اغوستې او پۀ کوڅو کښي به ګرځیدلې. (1)

اوس ووايئ چي دا جِدَّت دے...! لږ حِساب کتاب خو وکړئ: ✿ د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم د ولادت او د حضرت عیسیٰ علیہ السّلام د ولادت ترمینځه د 550 کالو نه زیاته فاصله ده (2) ✿ بیا د حضرت عیسیٰ علیہ السّلام او د حضرت موسیٰ علیہ السّلام ترمینځه 19 صدۍ فاصله ده ✿ بیا د حضرت موسیٰ علیہ السّلام او د حضرت ابراهیم علیہ السّلام ترمینځه 10 صدۍ فاصله ده (3) ✿ او د حضرت ابراهیم علیہ السّلام او د حضرت نُوح علیہ السّلام ترمینځه هم 10 صدۍ فاصله ده. (4) دا ټول تقریباً 4400 کاله جوړیږي، یعني ✿ دا بے پردګي ✿ د زنانۀ څادر نۀ پۀ سر کول ✿ د غیر محرمو نه پرده نۀ کول ✿ د پردو سړو پۀ مخکښې د خپل بدن نمائش کول ✿ لَنډې لَنډې او نرۍ جامې اغوستل دا د نن نه 4400 کاله مخکښینے انداز دے، کوم ته چي نن سبا خلق جِدَّت وائي؟ آیا دومره پخوانۍ خبرې ته جِدَّت وئیلے شي؟ اِسلام ته د ډیر

1...(روح المعانی)۔
2... تفسیر طبری، جلد:8، صفحہ:274۔
3... تفسیر منیر، جلد:6، صفحہ:140۔
4...مستدرک، جلد:2، صفحہ:288۔

ښځواني سوچ پیغور ورکوونکي دي وګوري چې دوئي په کومه ښځوانۍ زمانه کښې اوسيږي. جِدَّت څهٔ دے؟ راځئ چې زهٔ تاسو ته وښايم، **اللّٰه** پاک فرمائي:

وَلَا یُبْدِیْنَ زِیْنَتَهُنَّ (پارہ:18، سورۂ نور:31) | ترجمۂ کنزُالعِرفان: او خپل سینګار دې نهٔ ښکاره کوي.

دا دے جِدَّت...!! د زنانؤ په باره کښې د ټولو نه جدید ترین تعليم...!! دا د نن نه 4250 کاله نهٔ بلکې تقريباً 1450 کاله ښځوانے تعليم دے. اوس ووايئ چې اِسلامي پرده جدید ده که دا بے پردګي جدید ده.

اَلْحَمْدُلِلّٰه! اِسلامي پرده...!! ❁ په دې کښې جِدَّت هم دے ❁ په دې کښې حيا هم ده ❁ په دې کښې ايمان هم دے ❁ په دې کښې دِين هم دے ❁ په دې کښې د معاشرے حفاظت هم دے ❁ او بے پردګي خو ښکاره بے حيائي ده ❁ او د دوزخ عذاب دے.

## پرده د جنَّت نعمت دے

**په تفسير نُور العِرفان کښې دي:** پرده د جنَّت د نعمتونو نه يو نعمت دے. رَب فرمائي:

حُوْرٌ مَّقْصُوْرٰتٌ فِی الْخِیَامِ ﴿۷۲﴾ (پارہ:27، سورۂ رحمٰن:72) | ترجمۂ کنزُالعِرفان: په خيمو کښې پرده دارې حُورې دي.

په جنَّت کښې به هم ټول پرهيزګاره وي خو پرده به هلته هم وي. بے پردګي د دوزخ عذاب دے چې هلته به زنانه او نارينه د يو بَل په مخکښې لَغړ [يعني بربنډ] وي. [(1)]

**اللّٰه** پاک دې مونږ ته توفيق راعطا کړي چې مونږ پوره پوره په اِسلام کښې داخل شو ځکه چې دا جِدَّت په اَصل کښې جِدَّت نه دے، ښځوانۍ خبرې دي.

1... تفسير نور العرفان، پ۲۲، الاحزاب، تحت الآية:۵۹-

# موسيقي جِدَّت يا جهالت...؟

داسې موسيقي (*Music*) هم ډېره پخوانۍ خبره ده، د جهالت د زمانے نخښنه ده، د مسلمانانو څلورم خليفه حضرت علي المُرتضىٰ، شيرِ خُدا رضی اللہ عنہ فرمائي: د ټولو نه وړومبے سندره شيطان وئيلي وه. (1)

پهٔ روايتونو کښې دي: د **اللّٰه** پاک نبي حضرت داؤد علیہ السّلام ته رَبِّ رحمان ډير خوږ اواز عطا کړے وو، هغوئي به چې کله د زبور شريف تلاوت کولو نو پهٔ هوا کښې روانې مرغۍ به ودريدلې، خلق به د هغوئي پهٔ لور مائله کيدل، شيطان خبيث خلق د هغوئي خوا ته د حاضريدو نه د منع کولو د پاره شپيلۍ جوړه کړې وه. (2)

اوس ووايئ چې آيا سندره، سازونه، موسيقي وغيره دا جِدَّت دے...؟ د نن نه تقريباً 3 زره کاله پخوانۍ قيصه ده، نن سبا خلق دي ته جِدَّت وائي ❀ پهٔ موبائل کښې سندرې لګوي ❀ پهٔ غوږونو کښې يې هينډ فري (*Hand free*) لګولې وي او د موټر سائيکل چلولو پهٔ وخت سندرې اوري ❀ پهٔ بس کښې ناست وي او سندرې اوري ❀ پهٔ جازونو کښې د سفر کولو پهٔ وخت سندرې اوري، د دې له وجهې بعضې وخت حادثې هم رامخې ته کيږي، دا نادانه د ګاډي وغيره سره جنګيږي او مړه کيږي. او که څوک زړهٔ خوږيدونکے مسلمان دوئي پوهه کوي، د نيکۍ دعوت ورکوي، ورته ووائي چې وروره! سندرې مهٔ اوره! دا د ګناه کار دے. نو زر جواب ورکوي چې پريږده مولوي صاحبه! تاسو ته څهٔ پته چې دُنيا د کوم ځائے نه کوم ځائے ته رسيدلې ده، دا نوے دور دے، پخوانۍ خبرې مهٔ کوه!

لَاحَوْلَ وَلَاقُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰه! داسې نادانه دې څوک پوهه کړي چې وروره! پخوانۍ خبره خو تاسو کوئ، چرته 3 زره کاله پخوانۍ خبره او خبره هم هغه کومه چې شيطان ايجاد کړې

---

1...مسند الفردوس، جلد:5، صفحہ:124-

2...کشف المحجوب، صفحہ:740

وه او چرته 1450 سوه کاله مخکښې رڼا خپرونکے اِسلامي تعليم...!! جديد څۀ دي؟ اِسلام که د جهالت خبرې. او هسې هم سندرې اوريدل کومه د هوښيارۍ خبره ده، صرف وخت ورسره ضائع کيږي، هيڅ ترينه نۀ حاصليږي، بيا د دې سره سره د اخرت عذاب بيل دے. پۀ سندرو سازونو فضولياتو کښې د اخته کيدونکو پۀ باره کښې **اللّٰه** پاک فرمائي:

أُولَٰٓئِكَ لَهُمۡ عَذَابٌ مُّهِينٌ ۝٦

ترجمهٔ کنزُالعِرفان: د هغوئي د پاره د ذِلّت عذاب دے.

(پاره:21، سورۂ لقمان:6)

پۀ حديثِ پاک کښې دي: څوک چې د سندرو والؤ سره کښيني، د غوږ کيښودو سره يې بنه پۀ غوږ واوري، نو **اللّٰه** پاک به د قيامت پۀ ورځ د هغۀ پۀ غوږونو کښې اوسپنه وراچوي. (1)

## د جهالت د زمانے يو څو نخښاني

هم داسې خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! نورې ډيرې خبرې دي، ډيرې زياتې طور طريقے دي کومې چې نن سبا خلق اختياروي، چې منع کوې يې نو وائي: وروره! نوے دور دے، مونږ جدت خوښوونکي خلق يو، مونږ ته پخوانۍ خبرې مۀ کوه! حالانکې هٰغه خبرې، هٰغه طور طريقے نوې نۀ دي بلکې پخوانۍ دي. د مثال پۀ طور ❀ پۀ ولاړه مِتيازې کول د جهالت پۀ زمانه کښې عام وو، اوس خلق د جدت پۀ نوم باندې داسې کوي ❀ د جهالت پۀ زمانه کښې شراب عام وو، دا بيماري اوس زمونږ پۀ معاشره کښې هم عام کيږي ❀ د جهالت پۀ زمانه کښې بد کاري عامه وه، زمونږه پۀ معاشره کښې هم دا زياتيږي ❀ بے حيائي د جهالت د زمانے يو ډير غټ عيب وو، اوس دا عيب زمونږه پۀ معاشره کښې د پوره طاقت سره خور شوے دے ❀ کنځلې د جهالت د زمانے تيارۀ ده، زمونږه پۀ معاشره کښې هم عامه ده ❀ مور پلار ته تکليف رَسَوَل د جهالت تيارۀ

---

1...ابنِ عَساکِر ج۵۱ ص۲۶۳۔

ده، زمونږ پهٔ معاشره کښې هم د اولډ هاؤس (**Old House**) رواج زیاتیږي ❁ قطع تعلق (یعنې رشتے پریښودل) بلکې د خپلوانو سره اختل، د حسد، بُغض له وجهې د هغوئي سره جګړې کول د جهالت د زمانے تیارهٔ ده، نن سبا کوم یو داسې کور دے چرته چې جګړې نه وي، ورور د ورور دښمن دے، د چا د کشر ترهٔ سره نهٔ لګي، څوک د مشر ترهٔ نه خفه دے، د چا د [پلار د اړخه د] ترور نه نفرت دے، څوک د [مور د اړخه د] ترور نه بیزاره دے ❁ د طاقتورو پهٔ کمزورو باندې حکم چلول، ویرول، دهمکي ورکول، د کمزورو حق خوړل، د جهالت د زمانے تیارهٔ ده، زمونږه پهٔ معاشره کښې تر کومه حده پورې خوره شوې ده، ټولو ته به د دې ښه اندازه وي ❁ سندرې، سازونه، میوزک (**Music**) وغیره د جهالت تیارې دي، زمونږه پهٔ معاشره کښې دا ګناهونه دومره عام شوي دي چې بعضې وخت پهٔ جوماتونو کښې هم میوزیکل ټونز (**Musical Tunes**) اوریدلے کیږي ❁ د بے حیایۍ والا شعرونه لیکل، لوستل، د ځان سره وئیل د جهالت پهٔ زمانه کښې عام وو، زمونږه پهٔ معاشره کښې هم عام دي، بعضې شاعران داسې بے هوده شعرونه لیکي، پهٔ ډک محفل کښې یـې وائي، یوټیوب، فیس بُک وغیره له د دې ویډیوز (**Videos**) ورکوي، داسې د بے حیایۍ والا شعرونه...! که څوک حیا دار یـې واوري نو غوږونو له به ګوتې یوسي، دا هم د جهالت تیارهٔ ده ❁ شپیلي وهل، پړقې وهل د جهالت رواج دے، نن زمونږه کوم یو داسې محفل وي چې د پړقو نه خالي وي؟ ❁ جواري کول د جهالت د زمانے انداز دے، لږ یـې ولټوئ چې زمونږ پهٔ ملک کښې د جوارۍ څومره اډې دي، څومره خلقو د جوارۍ له وجهې خپل کورونه برباد کړي دي ❁ نسلي تعصب، پهٔ خپل پلار نیکه باندې فخر کول د جهالت د زمانے تیارهٔ ده، نن سبا څومره خلق دي کوم چې د نسل پرستۍ پهٔ بنیاد فسادونه کوي ❁ سود د جهالت د زمانے لعنت دے، نن سبا زمونږ پهٔ معاشره کښې هم د دې رواج دے بلکې ورځ پهٔ

ورځ زیاتیږي ❀ کوډې جادو کول د جهالت د زمانے بدی دي، نن سبا پۀ هر کور کښې د کوډو او جادو مسئلے موجودې دي.

غرض دا چې هغه کوم ګناهونه وو کوم چې د جهالت پۀ زمانه کښې کیدل او اوس زمونږ پۀ معاشره کښې نۀ کیږي...؟ بلکې دلته خو د جهالت دې رسمونو له د ترقی نوم ورکولے شي ❀ نادانه او ناپوهه خلق د پرافټ (**Profit**) پۀ نوم سُود اخلي او حلال یې ګڼي ❀ د سود لین دین یې د معیشت د بهترۍ ذریعه ګڼلې ده ❀ شراب څښل فیشن (**Fashion**) جوړیږي ❀ بے حیایۍ ته د جدت نوم ورکولے شي.

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! دا جدت نه دے بلکې دا خو د اِسلام راتلو نه مخکښیني ګناهونه دي، د جهالت د زمانے بدې خبرې دي، کومې چې اِسلام ختمې کړې دي. ځکه د جشنِ ازادۍ ورځ راتلونکې ده، مونږ پاکستان حاصل کړے وو، ولې مو حاصل کړے وو؟ پۀ اِسلامي تعلیماتو د ازادۍ سره د عمل کولو د پاره. لهٰذا مونږ له پکار دي چې د جشنِ ازادۍ پۀ موقع د دې اړخ نه پۀ خپل ځان باندې، پۀ خپل کور باندې، پۀ خپله معاشره باندې غور وکړو، دا سوچ وکړو چې آیا زۀ د پاکستان دا مقصد پوره کووم، د عاشقانِ رسول علمائے کرامو هٰغه سوچ، د کوم د پاره چې هغوئي قرباني ورکړې او دا خوږ وطن یې حاصل کړو، آیا زۀ هٰغه سوچ پوره کووم؟ چرته زما پۀ ذات کښې خو د جهالت د زمانے څۀ نخښه نشته؟ چې پۀ دې اړخ د غور کولو سره مونږ د خپل ځان هم، د خپل کور هم او د خپلې ټولې معاشرې د جهالت د زمانے د ټولو نخښو نه د پاکولو پوره کوشش وکړو. الله دې کړي چې مونږ پوره پوره د اِسلام پۀ رنګ کښې رنګ شو.

## جشنِ ازادي او د جهالت حرکتونه

افسوس چې زمونږه پۀ معاشره کښې د ازادۍ پۀ ورځ هم د جهالت حرکتونه کولے شي، د ګناهونو نه ډک انداز اختیارولے شي ❀ د جشنِ ازادۍ پۀ نوم باندې سندرې غږولے

شي ❁ میوزک لګولے شي ❁ بے هوده ګډاګاني کولے شي ❁ چغې سورې وهلے کیږي ❁ پټاخې خلاصولے شي ❁ د بے هودګۍ سره باجے غږولے شي ❁ ځلمي پهٔ کوڅو کښې او پهٔ سړکونو باندې درز غوبل کوي ❁ پهٔ سړکونو باندې ون ویلنګ (**One Welling**) کولے شي او د مرګ سره لوبې کولے شي ❁ ډیر نادانه کوم چې د خپل مور پلار د بوډا والي یواځنے ملاتړ وي، د دې وَن ویلنګ پهٔ نشه کښې مست شي او مړه شي ❁ شرابونه څښلے کیږي ❁ نشه ور څیزونو ښه د زړهٔ د اِخلاصه استعمالولے شي.

د مختلفو رپورټونو ترمخه پاکستان کښې د جشنِ ازادۍ پهٔ موقع باندې 7 ملینه یعني 70 لاکهه کَسان د نشې څیزونه استعمالوي. آه! افسوس...!! آیا مونږ ته پاکستان دې د پاره میلاؤ شوے وو؟ آیا مونږ ته دا نعمت دې د پاره راکړے شوے وو؟

وائے ناکامی متاعِ کارواں جاتا رہا | کارواں کے دِل سے اِحساسِ زیاں جاتا رہا

وضاحت: آه! زمونږه ساز او سامان (مثلاً عزت، ترقي، کامیابي، عروج وغیره) تباه کیږي او بربادیږي او مصیبت خو دا دے چې زمونږ د نادانو سره د دې تباهۍ احساس قدرې نشته.

## د جشنِ ازادۍ ورځ د شُکر ورځ ده

اللّٰه پاک پهٔ قرآنِ کریم کښې فرمائي:

وَ لَقَدْ مَكَّنّٰكُمْ فِي الْاَرْضِ وَ جَعَلْنَا لَكُمْ فِيْهَا مَعَايِشَ ؕ (پاره:8، سورۂ اعراف:10)

ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او بے شکه مونږه پهٔ زمکه کښې تاسو ته د اوسیدلو ځائے درکړو او ستاسو د پاره مو پهٔ دې کښې د ژوند تیرولو اسباب جوړ کړل،

اَلْحَمْدُلِلّٰه! اللّٰه پاک مونږ ته د اوسیدو د پاره دا پاک او ازاد ملک عطا کړے دے، اَلْحَمْدُلِلّٰه! د ژوند ضرورتونه یې راته عطا کړي دي، ډیر زیات نعمتونه یې راته عطا کړي دي خو افسوس چې مونږ ھغه شان شُکر نشو ادا کولے، لکه څنګه چې د ادا کولو حق دے.

مونږ له پکار دي چې پاکستان زمونږه نصيب شو نو پۀ دې موقع باندې د **اللّٰه** پاک بنه ډير شُکر ادا کړو. د جشنِ ازادۍ ورځ هٔغه ورځ ده پۀ کومه ورځ چې مسلمانانو د ازادۍ حاصلولو د پاره خپل ځانونه قربان کړي وو، د يوې اندازې مطابق چې کله پاکستان جوړ شو نو **هٔغه وخت 30 لاکهه مسلمانان شهيدان شوي وو.** [1]

شہید تم سے یہ کہہ رہے ہیں، لہو ہمارا بھلا نہ دینا
قسم ہے تم کو اے سرفروشو! لہو ہمارا بھلا نہ دینا
وُضُو ہم اپنے لہو میں کر کے خُدا کے ہاں سُرخرُو ہیں ٹھہرے
ہم عہد اپنا نباہ چلے ہیں، تم عہد اپنا بھلا نہ دینا

يعنې 14 اګست د هٔغه شهيدانو د برسۍ ورځ ده، د برسۍ پۀ ورځ ميوزک نه لګولے کيږي، د قرآنِ کريم لوستلو سره، د روژې نيولو سره، د فاتحه خوانۍ کولو سره خپلو شهيدانو ته، خپلو وفات شوو ته ايصالِ ثواب کولے شي. پۀ 14 اګست عبادت وکړئ، د شکرانے نفلونه ادا کړئ او د پاکستان د پاره شهادت حاصلوونکو ته يې ايصالِ ثواب کړئ.

**اللّٰه** پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي. **اللّٰه** پاک دې زمونږه خوږ وطن ښاد او اباد لري. راځئ چې دُعا وکړو:

یاخُدا پاک وطن کی تُو حفاظت فرما
فضل کر اس پہ سدا سایۂ رحمت فرما
اس کو تُو قلعۂ اسلام بنا دے یارَبّ
مرے پیارے وَطنِ پاک پہ رحمت فرما
آج ہے امن وطن کا مرے پارہ پارہ
پھر مہیا مرے مولیٰ! اسے راحت فرما
ہائے بدمست گناہوں میں ہوئے اہلِ وطن
یاخُدا سب کو عطا نیک ہدایت فرما
بچہ بچہ ہو نمازی مرے پاکستاں کا
اور عطا جذبۂ پابندیٔ سُنّت فرما

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

---

1... تخلیقِ پاکستان میں علماءِ اہلسُنّت کا کردار، صفحہ:14۔

## د پاکستان د عوامو د پاره د کولو کارونه

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! **اللّٰه** پاک مونږ ته د پاکستان پهٔ شکل کښې نعمت راعطاکړے دے، پهٔ دې باندې مونږ ته شُکر ادا کول پکار دي، د شُکر تقاضا دا ده چې د چا د اړخ نه نعمت میلاؤ شوے وي د هغهٔ اطاعت او فرمانبرداري وکړے شي.

✿ که کولے شئ نو د ازادئ پهٔ شکرانه کښې پهٔ 14 اګست روژه ونیسئ ✿ د شکرانے د نفلونو ادا کولو اهتمام وکړئ ✿ د ازادئ پهٔ حلو ځلو کښې د شهادت مرتبے حاصلوونکو د پاره د ایصالِ ثواب اهتمام وکړئ ✿ د فضول رقم لګولو پهٔ ځائے د خوږ پاکستان شین جوړولو د پاره د بوټو نالولو اهتمام وکړئ ✿ خوږ ملک د هر قِسمه نقصان نه د بچ کولو او د دې پهٔ ودانئ او ترقئ کښې د خپل کردار ترسره کولو لوظ وکړئ.

**اللّٰه** پاک دې مونږ ته خپل خوږ وطن سره د محبت کولو توفیق راعطا کړي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

یہ بھی اپنی جگہ ریاضت ہے | خدمتِ خلق بھی عبادت ہے

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## پهٔ 12 دیني کارونو کښې یو دیني کار: یوه ورځ د اللّٰه پاک پهٔ لار کښې

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! د جهالت د کارونو نه د بچ کیدو، د اِسلام پهٔ تعلیماتو باندې د عمل کولو، د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ سُنّتو باندې د تللو د جذبې موندلو د پاره د عاشقانِ رسول د دِیني تحریک دعوتِ اِسلامي سره خپل تړون نور هم مضبوط کړئ! پهٔ 12 دیني کارونو کښې عملي طور شرکت وکړئ! پهٔ 12 دیني کارونو کښې یو دیني کار **یوه ورځ د اللّٰه پاک پهٔ لار کښې** هم دے.

✿ د اوسني وخت عظیم او روحاني شخصیت امیرِ اهلسنّت مولانا محمد الیاس عطار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه مونږ له دا مَدَني مقصد راکړے دے چې "**ما ته د ځان او د ټولې**

دُنیا د خلقو د اِصلاح کوشش کول دي.“ اِنْ شَآءَ اللّٰہُ الْکَرِیم!

❁ د دعوتِ اِسلامي والا عاشقانِ رسول د دې مَدَني مقصد پوره کولو د پاره کلي والو علاقو، د ښار اړخونو او د ښار داسې علاقې چرته چې ديني کار کمزورے وي هلته ځي او د نیکۍ دعوت عام کوي ❁ په هره یوه ورځ خصوصاً د جُمعې/اتورا په ورځ اِسلامي وروڼه دغه علاقو ته ځي ❁ هلته په جومات کښې نفل اعتکاف کولے شي ❁ د نیکۍ دعوت عام کولے شي ❁ تاسو هم تشریف راوړئ! اِنْ شَآءَ اللّٰہُ الْکَرِیم! ❁ د عِلمِ دِین زده کولو موقع به درته میلاویږي ❁ د نیکۍ د دعوت ورکولو ثواب به درنصیب کیږي ❁ د **اللّٰه** پاک په لاره کښې به د وتو سعادت درنصیب کیږي ❁ د **حدیثِ پاک** خُلاصه ده: په کوم قدم باندې چې د **اللّٰه** پاک په لار کښې دوړه پریوځي، هغې ته به د دوزخ وور نه ورنزدې کیږي (1) ❁ کوم کَس چې د **اللّٰه** پاک د رضا د پاره د خپلو مسلمانانو وروڼو خوا له د ښار اړخونو ته لاړ شي، په **حدیثِ پاک** کښې د هغهٔ د پاره د جنّت زیرے راغلے دے. (2)

## مونږ خو بَس د دعوتِ اِسلامي شو

یو اِسلامي ورور وائي چې د دعوتِ اِسلامي دیني ماحول ته د راتلو نه مخکښې ما د عامو ځلمو په شان په غفلت کښې ژوند تیرولو، سندرې سازونه اوریدل زما د خوښې کارونه وو د کومو د پاره چې ما یو ریډیو هم اخستے وو، زما بخت ځهٔ داسې رابیدار شو چې یوه ورځ زمونږ علاقې ته یو څو اِسلامي وروڼه یوه ورځ د **اللّٰه** پاک په لار کښې د تیرولو د پاره راغلل، په هغوئي کښې یو اِسلامي ورور ما ته په دې دیني کار کښې د شرکت کولو دعوت راکړو، لِهٰذا زهٔ هم د یو څو دوستانو سره د هغوئي سره شامل شوم، د واپس راتللو په وخت یو اِسلامي ورور مونږ ته د هفته وارې اجتماع دعوت راکړو نو مونږ عرض

---

1... مسندامام احمد، جلد:6، صفحہ:507، حدیث:16356 خلاصۃً۔

2... معجم اوسط، جلد:1، صفحہ:472، حدیث:1743۔

وکړو: که یاد وو راته نو اِنْ شَآءَاللّٰهُ الْكَرِيم! ضرور به شرکت کوو.

بهر حال مونږ پهٔ اجتماع کښې شرکت وکړو، هلته هم د هغه اِسلامي ورور سره ملاقات وشو چا چې مونږ ته د اجتماع دعوت راکړے وو، هغهٔ دومره پهٔ ښو اخلاقو میلاؤ شو چې بس مونږ خو د دعوتِ اسلامي شو. زما خو چې لکه د ژوند انداز بدل شو، د نـمونځونو پابندي مې نصیب شوه، د سندرو ځائے نعت شریف واخستو، مخ مې پهٔ ګیره ښائسته کړو او عمامه مې پهٔ سر کړه او داسې د دعوتِ اِسلامي دیني ماحول ته راغلم.

عطائے حبیبِ خدا دینی ماحول | ہے فیضانِ غوث ورضا دینی ماحول
تُو داڑھی بڑھا لے عِمامہ سجا لے | نہیں ہے یہ ہرگز بُرا دینی ماحول

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## سپیشل پرسن موبائل اپیلي کیشن

اے د خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! نن سبا د ټیکنالوجۍ دور دے. اَلْحَمْدُلِلّٰه! د عاشقانِ رسول دیني تحریک دعوتِ اسلامي د جدید ټیکنالوجۍ پهٔ ذریعه هم د علم دین د عام کولو کوشش کوي. دې لړ کښې د دعوتِ اِسلامي د ***I.T*** ډیپارټمنټ له خوا مختلف اپیلي کیشنز جاري کړے شوي دي، پهٔ کومو کښې چې یو موبائل اپیلي کیشن دے: سپیشل پرسن (***Special Person***). پهٔ دې اپیلي کیشن کښې د نابینا کسانو (***Blind Persons***) د پاره د زده کولو ډیر خیزونه دي، مثلاً د آډیو لائبریرۍ آپشن هم دے، د کڼو او ګونګیانو د پاره د حج او عمرې، نـمونځ، د اوداسه او غسل طریقه د اشارو پهٔ ژبه کښې شامله کړے شوي ده، د اشارو د ژبې زده کولو د پاره ***Sign Language Course*** هم موجود دے. تاسو هم دا اپیلي کیشن انستال کړئ او که ستاسو پهٔ پیژندګلو، خپلوانو وغیره کښې څوک سپیشل پرسن (یعني ګونګے کوڼ) اِسلامي ورور

وي نو هغهٔ ته هم دا ایپلي کیشن ورسوئ!

صَـلُّـوْا عَـلَی الْـحَـبِـیْـب! صَلَّی اللّٰهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## یو څو ضروري اِعلانات

❁ د هر خالي پهٔ ورځ امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَه پهٔ مَدَني چینل لائیو هفته واره مَدَني مذاکره کوي، د راتلونکې هفتې پهٔ ورځ به هم د ماسخوتن د نـمانځه نه پس پهٔ مَدَني چینل باندې اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیْم! هفته واره مَدَني مذاکره کیږي، پهٔ کومه کښې چې به شیخِ طریقت، امیرِ اهلِسُنَّت مولانا الیاس عطّار قادري دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَه د سوالونو جوابونه هم ورکوي. ټول ذِمه داران او عاشقانِ رسول پهٔ دې مَدَني مذاکره کښې ځپله هم شرکت وکړئ او نورو له دې هم دعوت ورکړئ ❁ شیخِ طریقت، امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَه هره هفته د یوې دِیني رسالې د لوستو اعلان کوي، پهٔ راتلونکې هفته واره مَدَني مذاکره کښې به د رساله **د امیرِ اهلِسُنَّت نه د بد ګمانۍ پهٔ باره کښې 20 سوالونه** اعلان کولے شي. دا رساله ځپله هم ولولئ! نورو له هم د دې ترغیب ورکړئ او څوک چې سوشل میډیا مثلاً واټس ایپ وغیره استعمالوي هغوئي دې د **اللّٰه** پاک د رضا او د ثواب د پاره دا رساله د نورو سره هم شیئر (**Share**) کړي! ❁ اَلْحَمْدُ لِلّٰه! مکـتبة الـمدینه پهٔ قرآن، حدیث، عقائدو، تصوف او فقه کښې د مهارت لرونکي د عظیم علمي او روحاني شخصیت، د څوارلسمې صدۍ د مجدد، اِمامِ اهلِسُنَّت اِمام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د سیرت پهٔ مختلفو اړخونو باندې لیکلے شوے یو کتاب پهٔ نوم د **فیضانِ اِمامِ اهلِسُنَّت** چاپ کړے دے، د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د سیرت مبارک لوستلو د پاره هم نن دا کتاب د مکـتبة الـمدینه د یوې څانګې نه پهٔ **415 روپۍ** پهٔ بیعه واخلئ. دا کتاب ځپله هم ولولئ! او نورو له هم د دې ترغیب ورکړئ!

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب!   صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د بيان په اخره کښې د سُنّتو فضيلت او د ژوند د يو څو ادابو بيانولو سَعَادت حاصلووم. تاجدارِ رسالت، شهنشاهِ نبوت صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِی فَقَدْ اَحَبَّنِی وَمَنْ اَحَبَّنِی کَانَ مَعِی فِی الْجَنَّۃِ چا چې زما د سُنّتو سره محبّت وکړو هغهٔ زما سره محبّت وکړو او چا چې زما سره محبّت وکړو هغهٔ به پهٔ جنّت کښې زما سره وي. [1]

سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! | جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب!   صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د اُمَّت سره همدردي د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سُنَّت دي

د آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم 2 مبارک فرامين: (1): الله پاک ما ته درې سوالونه عطا کړل، ما دوه څله (خو پهٔ دُنيا کښې) عرض وکړو اَللّٰھُمَّ اغْفِرْ لِاُمَّتِیْ اَللّٰھُمَّ اغْفِرْ لِاُمَّتِیْ اے الله! زما اُمَّت اوبخښې، اے الله! زما اُمَّت اوبخښې. او دريم عرض مې د هغې ورځې (قيامت) د پاره ساتلے دے. [2] (2): خوک چې پهٔ خلقو باندې رحم نه کوي الله پاک پهٔ هغهٔ باندې رحم نهٔ فرمائي. [3]

اے د خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عاشقانو! د اُمَّت سره همدردي د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سُنَّت دي ❁ رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د مبارک پيدائش پهٔ وخت هم مونږ اُمتيان ياد کړو ❁ د معراج پهٔ شپهٔ يې هم د الله پاک پهٔ بارګاه کښې ياد کړو ❁ د وصال شريف نه پس قبر مبارک ته د کوزيدو پهٔ وخت يې هم پهٔ

---

1...تاریخ دمشق، جلد:9، صفحہ:343۔
2...مسلم، کتاب: مسافروں کی نماز، صفحہ:294، حدیث:820۔
3...مسلم، کتاب: فضائل، صفحہ:910، حدیث:2319۔

لبانو مبارکو باندې د اُمَّت د نجات او بخښنې دعاګانې وې ❁ د شپې چې به کله ټول جهان خوبونه کول نو هُغه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به خپله بستره مبارکه پرېښودله او د **اللّٰه** پاک په بارګاه کښې به يې زمونږ د ګنهګارانو د پاره دعاګانې کولې ❁ د قيامت په ورځ به په سخته ګرمۍ کښې د سختې تندې په وخت د **اللّٰه** پاک په بارګاه کښې زمونږ د پاره سر په سجده کېږدي او د اُمَّت د بخښلو خواست به کوي ❁ د اُمتيانو د نيکو تَله به درنوي ❁ چرته به مو په پل صراط باندې په سلامتۍ سره تيروي ❁ نو چرته به مو د حوضِ کوثر په اوبو تنده ماتوي ❁ کله به دوزخ ته غورځولے شوي اُمتيان راوباسي ❁ د چا درجے به اوچتوي ❁ بخپله به غمژن وي خو مونږ ته به خوشحالۍ راعطا کوي ❁ په خپلو نوراني اوښکو باندې به د اُمَّت ګناهونه وينځي.[1]

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکـتـبة الـمدينه د **بهارِ شريعت** جلد: 3 نه حصه نمبر 16 او د شيخ طريقت، امير اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي دَامَتۡ بَرَکَاتُهُمُ الۡعَالِيَه د 91 صفحو رساله **550 سنّتيں اور آداب** واخلئ او اوئې لولئ! د سنتو زده کولو يوه بهترينه ذريعه د دعوتِ اِسلامي په مَدَني قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے.

غم کے بادَل چَھٹیں قافلے میں چلو | خوب خوشیاں ملیں قافلے میں چلو
ربّ کے در پر جُھکیں، اِلتجائیں کریں | بابِ رحمت کھلیں، قافلے میں چلو

**اللّٰه** پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّی اللّٰہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم.

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

---

1... تفسیر صراط الجنان، پارہ:4، سورۃ آلِ عمران، جلد:2، صفحہ 87۔

www.dawateislami.net

# د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

## ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [یعني د جُمعے د شپے] دُرُود

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِ نِالنَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الْحَبِيْبِ الْعَالِى الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

بُزرګانو فرمائیلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (یعني د جُمعے او زیارت مینځنۍ شپه باندې) دا دُرُود شریف پابندۍ سره کم ازکم یو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدینه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِیدار کوي او قَبْر کښې د داخلیدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدینه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر کښې د خپل رَحمت نه ډکو لاسو باندې کوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شریکه دا دُرُود اووائیو.

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

حضرتِ سیِّدُنا اَنَس رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دے چې تاجدارِمدینه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي که ولاړ وو نو کښیناستلو نه مخکښې او که ناست وو نو اودریدلو نه مخکښې به د هغه ګُناهونه مُعاف کړے شي. راځئ چې مونږه هم په شریکه دا دُرُود اووائیو.

---

1 ... افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاة السادسة والخمسون، ص١٥١ملخصًا

## ﴾3﴿ د رَحمت اويا دروازے:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

خوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازے بيرته كړے شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو.

## ﴾4﴿ د شپږ لاكه دُرُودشريف ثواب

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللّٰهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

حضرت اَحْمَد صَاوِي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د بَعضو بُزرګانو نه نَقل كوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاكو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[2] راځئ چې په شريكه ئې اُووائيو.

## ﴾5﴿ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰى لَهٗ

يوه ورځ يو كس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدّيقِ اكبر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ تر مينځه كښينولو، په دې باندې صَحابَهٔ كِرام رَضِيَ اللهُ عَنْهُم حيران شو چې دا خوك ذِی مَرتبه [يعني اوچتې مرتبے والا] دے! چې كله هغه لاړو نو سركار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چې كله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[3] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريكه اووائيو.

---

1...القول البديع، الباب الثانی، ص۲۷۷

2...افضل الصلوات علی سيد السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص۱۴۹

3...القول البديع، الباب الاول، ص۱۲۵

## ﴾6﴿ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو.

## ﴾1﴿ د يو زر ورځو نيكئ:

جَزَى اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا نه رِوايت دے چې سركارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونكي د پاره فرښتے يو زر ورځو پورې نيكئ ليكي.[2] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريكه اووائيو.

## ﴾2﴿ داسې ده لكه شبِ قدر ئې چې حاصل كړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لكه هغه چې شَبِ قَدر حاصل كړو.[3] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريكه اووائيو.

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

---

1...الترغيب والترهيب، كتاب الذكر و الدعاء، ۲/۳۲۹، حديث:۳۰

2...مجمع الزوائد، كتاب الادعية، باب فى كيفية الصلاة...الخ، ۱۰/۲۵۴، حديث:۱۷۳۰۵

3...تاريخ ابنِ عساكر، ۱۹/۱۵۵، حديث:۴۴۱۵